# الحمدُ لله الذي ردَّ كيدَه إلى الوسوسَةِ». يعنې الله ستر دی الله ستر دی، الله لره ستاینه ده چې د شیطان مکر یې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې وايي: یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته ویې ویل: اې د الله رسوله، زموږ څخه یو تن په خپل ځان کې داسې څهویني - داسې یو څه ورته په خیال کې راځي چې- دا ورته غوره ښکاري چې سکروټې او ایره شي خو هغه څه یې چې په زړه کې تیریږي - په خوله یې ونه وايي، نو هغه وویل: «اللهُ أكبرُ، اللهُ أكبرُ، الحمدُ لله الذي ردَّ كيدَه إلى الوسوسَةِ». يعنې الله ستر دی الله ستر دی، الله لره ستاینه ده چې د شیطان مکر یې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه».

[صحيح دی] [ابو داود او النسائي په السنن الكبرى کې روايت کړی دی]

یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته یې وویل: اې د الله رسوله، زمونږ څخه یو تن په خپل ځان کې داسې څه حس کوي چې په خوله ویل یې ډیره لویه خبره ده، تر دې پورې چې ایره شي دا ورته ډیره غوره ده لدې چې په اړه یې خبرې وکړي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه ځلې الله اکبر وویل او د الله تعالی حمد - یې ادا کړ چې د شیطان مکر یې یوازې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه ـ یعنې له وسوسې پرته نور هیڅ نشي کولای .

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65012

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee